بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 496

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

## د مارچ د 23مې په مناسبت د پاکستان د زړور ملت خوارجو ته یو څرګند پیغام

د پاکستان د ورځې په مناسبت چې د پاکستان ملت د یو خپلواک اسلامي دولت تر لاسه کولو په برکت الله تعالی ته سجده کوي، نو د ګران هېواد د ساتنې، دایمي سولې د ټینګښت او د هغې د سوکالۍ او پرمختګ لپاره به له هیڅ راز قربانۍ څخه ډډه ونه کړي۔

د پاکستان د ورځې په مناسبت د پاکستان ملت په یووالي سره هغو خوارجو ته چې د پاکستان او اسلام دښمنان دي یو څرګند پیغام ورکوي:

- **ملک خداداد د اسلام په نوم جوړ شوی، چې اساسي قانون یې له اسلامي لارښوونو سره سم دی، په داسې حال کې چې د ټولو مکتبونو جید عالمانو د خوارج اجنډا حرامه بللې ده۔**
- **ټي ټي پي د بهته خوري، اجیر قاتلانو، د خلکو او اسلام ضد خوارجو یوه ډله ده چې د پاکستان د دښمن طاقتونو آله کار دي۔**
- **له افغانستانه د امریکایانو له وتلو وروسته د تحریک طالبان پاکستان خوارجو تش په نامه جهاد دفن شوی ځکه چې د اسلامي حکومت پر ضد جګړه جهاد نه بلکې فتنې او فساد دی۔**
- **دا اسلام ضد ډله په پاکستان کښې ترهګري خپروي او د خپلو بادارانو لخوا په بې ګناه کشمیریانو مسلمانانو باندې د ظلمونو په وړاندې چوپه خوله پاتې دي۔**
- **خوارج په عمل کې له اسلام څخه وتلي او د اسلامي ارشاداتو او احادیثو په رڼا کې د دوزخ سپي دي، ځکه چې اسلام د بې ګناه هېوادوالو، ښځو او ماشومانو د قتل عام، د جومات او منبر د بې حرمتۍ، ځانمرګو بریدونو، جبري ودونو او غیر طبیعي اعمالو ته اجازه نه ورکوي۔**

د پاکستان ولس په دې ډېر ویاړي چې پاکستان د اسلام په نوم رامنځته شوی، د دې لپاره زموږ بزرګانو ډېرې قربانۍ ورکړې دي۔ ټول ملت تر بل هر وخت د دغو ترهګرو پر وړاندې متحد دی او هغوی ته دا روښانه پیغام ورکوي چې د دغو خوارجو ورځې په شمېر پاتې دي او د دوی ماتې د دوی مقدر دی۔ انشاءالله

**د پاکستان ورځ دې ټول ملت ته مبارک وي**

مورخه: ۲۳ مارچ ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk